USAID | AFGHANISTAN
FROM THE AMERICAN PEOPLE

# ثبات

جون ۲۰۱۱



Photo: USAICADG

*USAID* د ټولنو په ثبات کې مرسته کوي او هغه پروژې تطبیقوي چې د ټولنو عاجلو اړتیاو ته ځواب ورکوي او د بې ثباتی انګیزې له منځه وړي. دغه د دامان ولسوالی اوسیدونکي کار کوي څو د خپلې ټولنې زراعتي ځمکه وساتي او د اوبولګولو ویالې چې د سیلاوونو په خاطر وران شوي ول بیارغوي.

## شالید

د دیرشو کلونو جګړو او بی ثباتۍ وروسته، افغانستان خپل لوړی دیموکراتیک حکومت په ۲۰۰۴ کې وټاکه. له ټاکل کیدو وروسته، د افغانستان اسلامي جمهوریت په ولایتي او ولسوالیو سطح باندې د حکومتي ساختارونو په ایجاد پیل کړی او عامه خدمتونه يې عرضه کړي تر څو د افغانستان تخمیناً د ۲۹ ملیونه نفوسو اساسي ټولنیز او اقتصادي پراختیایي اړتیاوې پوره کړي.

دوامداره تاوتریخوالي په اکثرو ولسوالیو کې په ټول افغانستان کې شاتګ نوره هم ژوروي. ناامني د خلکو باور پر مرکزی دولت کموي او هغه لاسته راوړنې چې تر اوسه په سختۍ لاسته راغلي ګواښوي. په افغانستان کې د ثبات په راوستلو کې د نامنۍ، حکومتدارۍ او پراختیا د اهمیت په پام کې نیولو سره، د متحده ایالاتو حکومت له افغان حکومت سره مرسته کوي څو دغه چاپیریال د ولایتونو او ولسوالیو په سطح ایجاد کړي. دغه دریز مني چې د ډیموکراسۍ عملونه او بنسټونه، خصوصاً په حکومتدارۍ کې د خلکو ونډه، د افغانستان اوږدمهاله پراختیا لپاره ضروري دي.

USAID د لاندې لارو څخه له افغانانو سره مرسته کوي څو د بی ثباتۍ عوامل له منځه یوسي او د پایدار ټولنیز او اقتصادي ودې لپاره چاپیریال برابر کړي: ۱) په خطره کې د نفوسو تشویق/ملاتړ، ۲) د حکومت لاسرسی پراخول بی ثباته سیمو کې، ۳) ټولنیز او اقتصادي مرسته او د عایداتو د زیاتوالي فرصتونه، ۴) د خلکو او د هغوي د حکومت تر منځ د اعتماد جوړول، او ۵) د محلي خلکو تشویق چې په خپله پراختیا کې فعاله ونډه واخلي.

## پروګرام
## کتنه

د ثبات دفتر د USAID پروګرامونه د یو دفتر لاندې متحدوي څو د ماموریت د ثبات فعالیتونه همغږي کړي. دغه دفتر مسوولیت لري څو د متحده ایالاتو د حکومت د ثبات موخو او لومړیتوبونو ته رسیدګي وکړي، د USAID د ثبات پروګرامونه تنظیم کړي او له متحده ایالاتو او د ایتلاف نظامي قوتونو سره د USAID همغږي تامین کړي.

### د شورش په وړاندې د مبارزې قرینه

د ټول حکومت دریز دا مني چې USAID د پوځي باغي ګرۍ په وړاندې هڅو کې یو رول لوبوي. USAID پروژې طرح کوي څو سیاسي او ټولنیز ثبات، ټولنیز یووالی، او ښې حکومتدارۍ سره مرسته وکړي. دا ضروري عناصر دي تر څو سیمې د پوځ یا پولیس لخوا پاکې شي او باغیان وځپل شي او دا توان پیدا شي تر څو د محلي خلکو ملاتړ تر لاسه کړای شي.

د پروګرام هغه فعالیتونه چې په استراتیژیکه توګه منسجم شوي په کاین کې کلیدي مرحلو ته رسیدګي کوي: ۱) شکل – د ټولنې ستونزې په نښه کول او له ایتلاف قوتونو سره مرسته څو شکلي فعالیتونه تنظیم کړي، ۲) پاک کول – د هغو فعالیتونو تطبیق چې فوري اغیز لري تر څو په لومړیتوب ورکړل شویو ټولنو کې اړتیاوې پوره شي، ۳) ساتنه – په خطره کې د نفوسو لومړیتوبونو او اندیښنو ته رسیدګي، او ۴) جوړونه – د هغو فعالیتونو تطبیق چې د ثبات هڅې اوږدمهاله پراختیا ته د لیږدونې ملاتړ کوي.

### د محلي حکومت لاسرسی او ظرفیت جوړونه

د USAID د ثبات فعالیتونه د افغان حکومت سره مرسته کوي څو بی ثباته سیمو کې لاسرسی پیدا کړي، د ټولنو سره د هغوي د مستمرو اړتیاوو پوره کولو له لیارې سالمې اړیکې ایجادول، او د محلي حکومت ظرفیت جوړونه د مدیریت روزنې له لارې محلي حکومتي دفترونو ته. فعالیتونه کې روزنه او د پروژو پیژندنه، د پروپوزل لیکنه، ارزونه او بررسي، د شخړو خبرې اترې، او د ولسوالیو د ثبات لپاره استراتیژیک پلان او بودیجه جوړونه شامل دي.

### د ټولنو پراختیا

د افغانستان ملي یووالي پروګرام او ټولنیزو سازمانونو سره په ګډ کار سره، د USAID د ثبات پروګرامونه محلي ټولنو ته توان ورکوي څو خپل د ثبات او پرمختګ په برخه کې فعال رول ولوبوي. د بیلګې په ډول، محلي شوراګان په هغو فعالیتونو کې شاملول چې فعالیتونه وپیژني او لومړیتوب

CONTINUES >

د ثبات خلاصه

- له ۵۳۲۵ نه زیات د ټولنې د ثبات پروژې د هیواد تر ټولو بی ثباته او ناامنه سیمو کې تطبیق شوي
- د ۵.۱۴ ملیونو څخه زیات کاري ورځې ایجاد شوې چې کار د پیسو په وړاندې موقت عاید جوړونې له لارې تطبیق شوې
- ۳۶۰۰۰ کسانو ته د ژوندانه مرستې برابرې شوې چې د پوځي عملیاتو نه تاواني شوې وې

معلومات د جون ۲۰۱۱ څخه

# ثبات (ادامه)



د افغانستان ثبات او اقتصادي پیاوړتیا لپاره بې روزګاري یوه ستره ننګونه ده. دلته یو افغان ځوان د بایسکل ترمیم په برخه کې مسلکي زده کړه ترلاسه کوي.



Photo: USAID/DAI

د USAID د ثبات فعالیتونه د هغو نفوسو نه ملاتړ کوي چې خطره کې او آسیب پذیره دي چې باغیانو سره یو ځای شي. دلته د تاوتریخوالي د قربانیانو کورنۍ د USAID لخوا و ژمي لپاره برابر شوي سامان ترلاسه کوي.

## د عایداتو تولید

د دې لپاره چې د اقتصادي فرصتونو د کمښت ستونزه حل شي ځکه چې دا د بی ثباتۍ لپاره یو فکتور دی او د باغیانو سره د یو ځای کیدو یوه انګیزه ده، USAID موقتی کارونه او عواید تولیدوي څو ثبات پیاوړی شي. د پروژې په فعالیتونو کې اکثر روزمره کارونه او د مهمو زیربناوو د جوړولو او د اقتصادي ودې پروژې شاملې دي لکه د باغونو بیل وهل، د فارم نه تر مارکیټه پورې د لارو جوړول، د اوبو لګولو د سیستم ترمیم، او د ښوونځیو بیا پرانیسته.

## عاجل اغیز او عاجله رسیدګي

د USAID د چټک اغیز لرونکي فعالیتونه د ټولنو عاجلو اړتیاو ته رسیدګي کوي لکه د طبیعي پیښو وروسته، او د ژوندانه موقت فرصتونه برابروي چې د ثبات پراخو هڅو برخه دي. په فعالیتونو کې د څاه ګانو جوړول، د سیلبر کانالونه، ښوونځي، او د اوبو لګولو سیستمونه، د سیلاوونو د صدماتو جوړول، او بشري مرسته برابرول محلي حکومتونو ته څو بیځایه شویو کورنیو باندې یې ووېشي.

## د پوځي فعالیت څخه وروسته د ټولنې بیارغونه

چون هغه ټولنې چې د پوځي عملیاتو وروسته د بیارغونې به وخت کې زیات آسیب پذیره دي، USAID د ثبات فعالیتونه تطبیقوي څو وضع نورماله شي او د هغو تاوانونو جبران کوي چې د عملیاتو په وخت کې پیښ شوي. په فعالیتونو کې د موادو او ژوندانه اړتیاوو برابرول په چټکه توګه هغو کورنیو ته چې تاواني شوي، د ټولنې د اساسي زیربناو بیارغونه، او د ځوانانو پرمختګ لپاره د لوبغالو او سپورتي تاسیساتو بیارغونه شامل دي.

د اړیکي معلومات
USAID/کابل
6180 Kabul Place
Dulles, VA 20189-6180
(202) 216-6288 x4454
0093 (0) 799-794-674
http://afghanistan.usaid.gov
kabulaidinformation@usaid.gov